مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر

۲۰۲۲/۰۳/۲۳

# د وصل رویباران

کله کله می زړه ته، ستــا یادونه رارســـــیږي
د وصل دي هر واړې ډک جــامــونه رارسیږي

د مخ په پلوشـــو دي چي، خیــالونو کي ډوبیږم
د نیمی شپی می زړه ته ، بـــیا آهونه رارسیږي

نا هیلي له خزانه، دلته چـیری هـــم چي نه شئ
چي زیری راته شـــوی، بهـارونه رارســـــیږي

تیارو پســـــي هر کله، د رڼا هیلي هم شــته دی
له هري تـیارې وروسته ، ســهارونه رارسـیږي

د وصل رویــباران هم، په دي لارو کي روان دي
نا هیلي چـیری نشـــئ ، پیـغامـــونه رارسیږي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ